مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۲/۰۳/۰۸

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### دوه ویشتمه برخه

**د جمهوریت د سقوط، بهرني او کورني عوامل**

په لوی لاس د جمهوري حکومت کمزوري کول:

وروسته له هغې چې امریکایانو او غربیانو د شمالي ټلوالي په مرسته د ۲۰۰۱ز، کال په اکتوبر کې د طالبانو حکومت وپرځاوه او په کابل کې د جمعیت ډلي مشر برهان الدین رباني واک ترلاسه کړ، احمد شاه مسعود چې څو ورځې وړاندې په پنجشیر کې وژل شوی ؤ او اوس یې پاتې شونو (وارثانو) کابل نیولو ؤ، ټول کابل د مسعود په انځورونو پوښل شوی ؤ.

دا مهال غربیانو د ملګرو ملتونو په مشرۍ د جرمني د بُن په ښار کې د افغانستان لپاره د لنډمهالي حکومت د جوړولو په موخه غونډه جوړه کړه، په غونډه کې پرېکړه وشوه چې لنډمهالی حکومت دی د قومونو د سلني (فیصدۍ) له مخې جوړ شي. په غونډه کې د پښتنو ونډه ډېره لږه وټاکل شوه چې له امله یې د غونډې ډېر پښتانه ګډونوال مشران خواشيني شول، حاجي عبدالقدیرسخته نیوکه وکړه او له غونډې بهر شو.

د بُن غونډې ګډونوالو له پخواني پاچا محمد ظاهر شاه وغوښتل، د لنډمهالي حکومت مشري په غاړه واخلي. پاچا چې سپینږی او د کار نه ؤ په ښکاره یې وویل:«ښه به وي چې یو وړ کس چې د غونډې د ګډونوالو په خوښه هم وي د لنډمهالي دولت مشرۍ ته وټاکل شي.»

په غونډه کې لومړی ځل ازبک توکمه، عبدالستار سیرت د افغانستان د لنډمهالي اداري لپاره نوماند ؤ خو د ډېریو ګډونوالو لخوا ونه منل شو، وروسته حامد کرزی چې هغه مهال په ارزګان او کندهار کې له طالبانو سره په جګړه کې ښکېل ؤ، د لنډ مهالي حکومت د مشرۍ لپاره نوماند کړای شو، د غونډې یو ګډونوال محمد ناطقي چې د هزاره توکمو استازی ؤ وویل:«په هغه ورځ چې حامد کرزی ټاکل کیده یونس قانوني په غونډه کې حاضر نه ؤ.»

ناطقي زیاته کړه چې په اړه یې ما له قانوني وپوښتل، هغه وویل چې مسئله د لنډ مهالي اداري د مشرۍ په اړه ده چې اوس مهال یې پر ځای استاد رباني ناست دی، امکان لري چې له دې امله استاد رباني ډېر خواشیني شي، دغو زمونږ پر وړاندې کودتا کړي ده.

ناطقي وایي:«... د کرزي په هکله ډېرې ځرګندونې وشوې داسې چې هغه مجاهد دی او پلار یې طالبانو وژلی دی، هغه مهال ښاغلی کرزی د ارزګان په غرونو کې ؤ خو د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي اخضر ابراهیمي وویل چې کرزی به راپیدا کړي تر څو غونډې ته خبرې وکړي. په سبا یې حامد کرزي د بي سیم له لارې د غونډې ګډونوالو ته په پښتو، دري او انګرېزی خبرې وکړې او مننه یې وکړه، کرزی د رایو په اتفاق د لنډمهالي اداري د مشر په توګه د شپږو میاشتو لپاره وټاکل شو.» (8 صبح۱۷ قوس ۱۳۹۶)

حامد کرزی وروسته له هغې چې د جرمني د بُن په غونډه کې د لنډ مهالي اداري د مشر په توګه وټاکل شو نو له کندهاره کابل ته پرته له کوم ساتونکي او پوځي ځواک ښخه کابل ته راورسید، حامد کرزي د یوې رسمي غونډې په مراسمو کې له برهان الدین رباني ښخه واک تسلیم کړ. (۲۲دسامبر ۲۰۰۱ز) سره له دې چې برهان الدین رباني خورا خواشیني ښکارېده خو د پخوا په څېر یې نه شول کولی خپله څوکۍ په بیلابیلو پلمو وساتي، دا ځل یې بله چاره نه درلوده څکه چې د بهرنیانو په لاس کې ؤ، هغه مهال چې خلکو په ټلویزیون د واک د تسلیمی مراسم لیدل او د رباني خواشیني حالت یې ولید، ډېرو افغانانو دا متل ویلو:(هم هندو شو، هم یې ګوړې ونه خوړې.)

د حامد کرزی ملي لباس او د ده پرېکنده خبرې چې ټوپکیان به بې وسلې کوي، قانون به پلی کړي، کار به اهل کار ته سپاري، د زمردو، لاجوردو او تریاکو له قاچاک وړونکو سره به حساب او کتاب کوي، نړیوال ترهګر به له منځ وړي او نورو ژمنو په کولو سره یې د خلکو په زړونو کې ځای موندلی ؤ، سره له دې چې د بُن په غونډه کې د لنډ مهالي اداري لپاره وزیران ټاکل شوي وو، حامد کرزي ونه شول کړای چې په اداره کې نور لوړپوړي کسان وټاکي، وجه دا وه چې کرزي د یو خپلواک ولسمشر په څېر واک نه درلود، ده په حکومت کې د خاینینو او مجرمانو د ټاکلو مخنیوی ونه کړای شو، هغه اړ ؤ چې همدغو خاینینو ته پوځي رتبې، مډالونه او ستاینومونه ورکړي، نامسلکه، نیمه باسواده، قاچاقیان، غله او د ملت قاتلین یې د حکومت په ادارو کې وګمارل، سره له دې چې د بُن په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پرېکړه ليک کې راغلي وو: د افغانستان د سياسي ثبات په موخه بايده دي چې پراخ بنسټه او ځواکمن جوړښتونه رامنځ ته شي خو له بده مرغه چې د افغانستان لپاره همدغه لنډ مهالي اداره د راتلونکو ضعيفو او فاسدو حکومتونو بنسټيز عامل ؤ، دا حکومت يو داسې حکومت ؤ چې په ټوله نړۍ کې يې سارى نه ليدل کيده، ځکه چې د حکومت مهم وزارتونه د جمعيت ډلې له خوا ونيول شول چې ډېر يې د يوې علاقه دارۍ، پنجشېر څخه وو، پنجشېري ملا قسيم فهيم ته د ولسمشرۍ لومړۍ معاونيت او د دفاع وزارت مقامونه په لاس ورغلل، يونس قانوني پنجشېرى د کورنيو چارو وزارت ته ورسيد، انجنير عارف خان پنجشېري، د ملي امنيت پر لوى رياست باندې واړول، پنجشېرى ډاکټر عبدالله عبدالله د بهرنيو چارو د وزارت پر چوکۍ کېناست او نور ډېر هغه کسان چې يا پنجشېريان وو او يا د جمعيت ډلې غړي وو، د ډېريو وزارتونو معينان او رييسان وټاکل شول.
هېښوونکي خو لا دا وه چې په يو وزارت کې له وزير نيولي تر رييس پورې ټول نامسلکي کسان ځاى پرځاى شول، د دوى يواځېنى مسلک دا ؤ چې څه ډول له نامشروع لارو خپلې شخصي ګټې ترلاسه کړي، د پېسو لپاره خلک، په ځانګړي توګه پښتانه اختطاف کړي او د خلکو شخصي کورونه او شتمنۍ غصب کړي او دولتي ځمکې چور کړي چې له دا ډول خيانتونو څخه يو دا ؤ چې د حامد کرزي لومړي مرستيال او دفاع وزير قسيم فهيم په خپل لاس ليک، د شېرپور تاريخي سيمه (چې د انګرېزانو اشغالګر ځواکونه له همدغه ځايه افغان اتلانو په زور ايستلي وو. (پنجشنبه: ۶ جنوري ۱۸۴۲ز)، پنجشېريانو او د جمعيت باند غړو ته وويشله، (د امرالله صالح په قول، پرته له درو تنو وزيرانو) د حکومت د کابينې ټول غړي، د ټول هېواد سياستوال، واليان، د ملي شورا ډېر شمېر وکيلان او له غرب څخه هغه تکنوکراتان چې په حکومت او يا په سياست کې شامل وو، د نوموړي ځمکې په نيواک کې ښکېل کړل، ترڅو له دې لارې وکړاى شي ځان او خپل کسان له راتلونکي مسؤليت وژغوري. لکه چې ومو ويل، د دغې تاريخي سيمې نوم شېرپور ؤ چې د امير شېرعلي خان لخوا پوځي پنډغالي په کې ودان شوي وو، خو وروسته له هغې چې د قسيم فهيم لخوا ووېشل شوه نوم د کابل عوامو د (شير چور) نوم ورباندې کېښود.
د جمعيت جهادي باند ډېرى غړي هېواد ته ژمن کسان نه وو، دوى هغه څوک دي چې تل يې له اشغالګرو سره د افغانستان په لاندې کولو کې مرسته کړې ده، له برهان الدين رباني (چې د نوموړي باند مشر ؤ او احمد شاه مسعود يې قوماندان ؤ) لومړى، د شوروي اشغالګرو ځواکونو مرستندويان وو او بيا له امريکايي اشغالګرو سره اوږه په اوږه د افغانستان په نيولو کې جګړيدلي دي، ځکه خو امريکايانو او غربيانو د هېواد د حکومتي ادارې مهمې څوکۍ د دوى د همکاريو په بدل کې ورکړې.
د لنډ مهالي ادارې پر مهال د ارګ امنيت د جمعيت ډلې په لاس کې ؤ، پښتانه مراجعين ارګ ته په اسانۍ سره نه شول تللى او په بېلابېلو پلمو به يې زورول يا ځنډول، يوه ورځ زه، د حامد کرزي علمي او فرهنګي مشاور، ښاغلي زلمي هېوادمل په بلنه ارګ ته روان وم چې د سلام خانې په دروازه کې نږدې څلوېښت دقيقې ودرول شوم، وروسته له هغې چې د ښاغلي هېوادمل دفتر ته ورسيدم چې په دفتر کې آغلي جميله مجاهد هم ناسته وه، د هغې پر وړاندې مې د مسؤلو کسانو له ناوړه چلند څخه شکايت وکړ، ومې ويل چې پر ما باندې خپل عزت ډېر ګران دى نو که داسې حال وي بله ورځ زه نه راځم، هغه ومنله ويې ويل رښتيا ده، موږ له دا ډول مشکلاتو سره مخ يو.
ښه مې په ياد دي چې يوه ورځ زه (ليکوال) او ښاغلى ډاکټر خوشال روهي، ښاغلى عبدالکريم پتنګ د ښاغلي زلمي هېوادمل په ملتيا، د ډاکټرعبدالله پنجشېري، وزارت (بهرنيو چارو وزارت) ته له يو تن رييس سره د ملاقات په موخه روان وو، د نوموړي وزارت په دروازه کې نږدې نيم ساعت ودرول شوو، سره له دې چې د ولسمشر علمي او فرهنګي مشاور راسره ؤ او د ده په دولتي ګاډي کې ناست وو.
د جمعيت لنډغرو ټول پښتانه، طالبان بلل، داسې پښتانه مې ليدلي دي چې له ولايتونو به کابل راتلل نو لُنګۍ يا پټکي به يې نه په سرول تر څو پنجشېريان او د جمعيت کسان يې ونه ځوروي او يا پوه نه شي چې د پښتنو له ولايت څخه راغلى دى. يوه ورځ زموږ د قوم څو کسان مشران کابل ته د ځمکې د حقوقي دعوې په موخه راغلي وو چې زه هم د دوى په ډله کې وم، موږ د کادستر رياست چې هغه مهال په خېرخانه کې ؤ، د مالوماتو تر لاسه کولو لپاره ولاړو، د جمعيت باند يو تن سپينږى (ظهيرالدين) نومى د نوموړي رياست رييس ؤ، هغه په ډاګه موږ ته وويل چې زه به تاسو ته هغه څه وليکم چې تاسو يې غواړۍ، خو شيريني (رشوت) يې لوړه ده. موږ ورته وويل څه چې د کادستر په نقشه کې دي هغه موږ ته وليکئ موږ پيسې نه لرو. هغه وو چې خبرې ښکته پورته شوې ظهيرالدين د خپلو چټياتو په لړ کې موږ ته وويل:«از شما ګرفته تا کرزى پيش ما همان طالبهاى خايين هستين!»
د لنډمهالي حکومت په موده کې د حامد کرزي لومړي مرستيال او د دفاع وزير (قسيم فهيم) او ډلې ټپلې يې او غالباً چې بهرنيانو به هم حامد کرزى اړ کړى وي چې فهيم ته د مارشالۍ رتبه منظوره کړي. (په داسې حال کې چې نه يې ډيلى فتح کړى ؤ او نه بخارا) يوازې د امريکايانو او انګرېزانو د بمباريو په زور کابل ته راغلى ؤ، هغه وو چې د غويي په ۱۳۸۱/۱۵ل. ل، کال يې د فهيم د مارشالۍ فرمان لاس ليک کړ.
او ورسره د جمعيت ډلې خپل وژل شوى مشر احمد شاه مسعود د افغانستان ملي اتل وباله، دوى ادعا وکړه چې مسعود د حامد کرزي د ځانګړي فرمان پر بنسټ د ملي اتل ستاينوم (لقب) ورکړل شوى دى، وروسته يې خپله دعوه لا پسې پراخه کړه ويې ويل: د ولسمشر کرزي د فرمان، د بېړني لويې جرګې، اساسي قانون لويې جرګې او د ملي شورا دواړو جرګو لخوا احمد شاه مسعود ته د ملي اتلولۍ ستاينوم منظور شوى دى، په داسې حال کې چې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جمعيت ډلې دا ډول ټولې ادعاګانې تشې خبرې وې. (د ډېرو مالوماتو لپاره، په افغان جرمن پورټال کې ولولئ: اتلان پېژنئ؟ ۱۹برخه)
د لنډمهالي اداري د مودې له تېرېدو وروسته بېړنۍ لويه جرګه راوغوښتل شوه، د جرګې د پرانستلو پر مهال د جمعيت ډلې يو بل ناوړه عمل دا ؤ چې کله بېړنۍ لويه جرګه د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه لخوا پرانستل کېدله چې د غونډې ګډونوال يې په انتظار وو، د برېښنا جريان يې پرې (قطع) کړ چې لاوډسپيکرونو کار پرېښود او د پاچا غږ نه اورېدل کېده، دا شان د اپرېل په ۱۷/ ۲۰۰۲ز، کال هغه مهال چې پاچا له ايټاليې څخه هېواد ته راستون شو، د برېښنا جريان پرې شو چې له امله يې رسنيو ونه شول کولی د پاچا د راتلو مراسم په ژوندۍ بڼه له ټلويزيونونو وګوري، ډېرو افغانانو، دا ډول کړنې يوه پلان شوي قصدي توطيه وبلله.
هغه وو چې د نورو پرېکړو تر څنګ د ۲۰۰۲ز، کال د جون په مياشت کې حامد کرزی د جرګې له خوا د دوو کالو لپاره د انتقالي حکومت د مشر په توګه وټاکل شو، د جرګې په پای کې حامد کرزي د حکومت څو وزيران وټاکل خو بيا هم مهم وزارتونه له پنجشيريانو او جمعيت ډلې سره پاتې شول، په انتقالي حکومت کې د حامد کرزي واک او ځواک هماغه د تېر په څېر ؤ، دا چې حامد کرزي به يو لوړپوړی چارواکی مقرر کړ، هغه ټاکل شوي کس ته به اجازه نه ورکول کېده چې خپله نوي دنده ترلاسه کړي، خو بيا هم په حکومت کې په زور واکو يې نيوکې کولی شوې، هغه مهال چې جمعيت ډلې لنډغرو په کابل کې جنايتونه او خپل سرۍ لوړې کچې ته ورسولې، حامد کرزی پر ټلويزيون راڅرګند شو، د جمعيت بدماشانو ته يې په ډاګه وويل:«... دا مو څه حال جوړ کړی دی، دوه طالبان درپسې راغلل تر کولاب او ايران پورې يې پسې واخيستی، اوس چې د امريکايانو د بمباريو پر زور راغلي ياست... » (په اړه د حامد کرزي پوره وينا په زړه پورې ده، زما په حافظه کې يوازې همدا جملې وې چې ومې ليکلې.)
حامد کرزي د حکومتي اداري د اصلاح په موخه د اداري اصلاحاتو کميسيون جوړ کړ، تر څو (کار اهل کار) ته وسپارل شي او مهمې مسلکي او اداري څوکۍ، د واليانو او ولسوالانو په ګډون د اهليت له مخې وړ کسانو ته ورکړل شي.
د حامد کرزي د هڅو سره سره بيا هم ورځ تر بلې حکومت په اداري فساد کې مخ پر ډوبېدو ؤ، څکه چې په دې فساد کې په هېواد کې مېشت بهرنيان شريک وو، د چارواکو په ټاکلو کې حامد کرزي پوره خپلواکي نه درلوده، په ځانګړي توګه ډېرې لوړ پوړي چارواکي لکه وزيران، واليان او نور په کابل د بهرنيو سفارتونو لخوا ولسمشر کرزي ته د ټاکل کېدو په موخه ورپېژندل کېدل او د دوی لخوا يې ملاتړ کېده.
له بل پلوه د حامد کرزي نرم چلند چې په هر خايين به يې رحم کولو د اداري فساد په زياتولو کې مهم رول درلود، يو تن سپينږی کابل ښاروال چې د کابل سړکونه يې د بيا جوړولو پر موخه وران کړل خو جوړ يې نه کړل، د فساد په نوم د څارنوالۍ له خوا ونيول شو، دا مهال ښاروال په ژړا شو، د ده ژړا حامد کرزي وليده يا پرې خبر شو، نو په ډېرې خواشينۍ سره يې وويل:«د خدای لپاره يو سپينږی يې نيولی دی... زه پوهېږم چې د کابل سړکونه يې وران کړل... .»
لکه څرنګه چې د بُن په غونډه کې پرېکړه شوې وه د هېواد لپاره اساسي قانون د ۱۳۸۲ل. ل، کال د قوس او جدي په مياشتو کې د ځانګړي لويې جرګې له خوا تصويب شو، د اساسي قانون په لړ کې د ولسمشرۍ او پارلماني ټاکنو لپاره نېټې وټاکل شوې چې د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره ۱۳۸۳ل. ل، کال او د پارلماني ټاکنو لپاره ۱۳۸۴ل. ل، کال وټاکل شول.
له دوه کلن انتقالي حکومت وروسته، د لومړي انتخابي حکومت په موده کې حامد کرزي د جمعيت ډلې د فشار يا د دوی د خوشالولو په موخه يې د پنجشېر ولسوالي په ولايت بدله کړه چې هېڅ ډول اړتيا يې نه ليدل کېده او نه يې قانوني حق درلود. کرزي وويل:«افغانستان ته د قوماندان مسعود د خدمتونو له کبله پنجشېر ته د ولايت ارتقاء ورکړل شوه» (اپرېل ۲۰۰۴ز)
له بل پلوه د حامد کرزي د حکومت د کمزوري کېدو او په راتلونکي کې د افغانستان د وېشلو لپاره د ۱۳۸۶ل. ل، کال د حمل په ۲۴مه نېټه چې حامد کرزی هند ته په سفر تللی ؤ، د برهان الدين رباني په مشرۍ يوې ډلې کسانو چې ډېر شمېر يې د حامد کرزي د حکومت لوړپوړي چارواکي هم وو او نور يې د ملی شورا غړي وو (د افغانستان ملي جبهې) په نوم خپل شتون په رسمي توګه اعلان کړ، په داسې حال کې چې رباني، حامد کرزي ته واک سپارلی ؤ او د ده واکمنې يې منلې وه او هغه کسان چې د کرزي د حکومت لوړپوړي چارواکي وو د خپل حکومت پر خلاف يې جبهه اعلان کړې وه، د جبهې مهم غړي په دې ډول وو: برهان الدين رباني، مصطفي ظاهر د ظاهر شاه زوی، احمد ضيا مسعود د ولسمشر لومړی مرستيال، مارشال محمد قسيم فهيم د ولسمشر مشاور، محمد اسماعيل خان د اوبو او انرژۍ وزير، جنرال عبدالرشيد دوستم د مسلحو ځواکونو د سرقوماندانۍ مرستيال او محمد يونس قانوني د ملي شورا رييس، د جبهې نور غړي مختلفو ولايتونو، د ملي شورا وکيلان وو.
د دغې جبهې اصلي موخه دا وه چې د افغانستان د تجزيې لاره هواره کړي، د جبهې په موخو (اهدافو) کې يو هدف داسې ؤ چې د موجود رياستي نظام پر ځای فدرالي نظام رامنځ ته کړي او واليان انتخابي کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې حامد کزرى له هند څخه راستون شو په يوه مطبوعاتي غونډه کې يې وويل چې د دغې جبهې د جوړولو په طرحه کې يو شمېر بهرني هېوادونه لاس لري، کرزي د نظام بدلون د هېواد فدرالي کول او د واليانو انتخابي کول، د افغانستان په زيان وبلل او زياته يې کړه چې نه بايد افغانستان د پرديو لپاره سياسي لابراتوار وګرځي.
د برهان الدين رباني له وژل کيدو وروسته نومونړي جبهې پر موخو باندې د جبهې ځينې غړي پوه شول، شهزاده مصطفى ظاهر چې ژر يې په خبره سر نه خلاصيږي په ۲۰۰۸ز، کال کې له دغې ډلې جدا شو، کريم خليلي او نور ترې ووتل، ورپسې په ۲۰۱۱ز، کال ضياء مسعود چې د رباني زوم دى، د نومونړي جبهې شتون بيا اعلان کړ. (له ويکىپديا څخه)
په دغه دويمه جبهه کې هېڅ کوم پښتون غړيتوب نه درلود، پداسې حال کې چې د رباني په جبهه کې څو تنه تش په نامه پښتانه لکه مصطفى ظاهر، نورالحق علومي او سيد محمد ګلاب زوى، غړيتوب درلود.
حامد کرزي چې د خپل لومړي انتخابي حکومت په دوره کې يو څه نظم رامنځ ته کړ او ورسره يې د امريکايي ځواکونو پر پوځي عملياتو چې عام خلک په کې وژل کيدل، نيوکې کولې، هغه وو چې امريکايي چارواکي، په ځانګړي توګه ولسمشر بارک اوباما، د اوباما مرستيال جوبايډن او بهرنيو چارو وزير جان کيري د ولسمشر حامد کرزي پر وړاندې مخالفت پيل کړ، هغه مهال چې اوباما په خپلو ټاکنيزو هلوځو کې لګيا ؤ، د حامد کرزي په اړه يې د (C. N. N) له ټلويزيوني شبکې سره په يوه مرکه کې وويل چې د حامد کرزي د حکومت فعاليت يوازې په کابل پورې محدود دى.
د اوباما د ځرګندونو پر وړاندې افغان دولت غبرګون ښکاره کړ، ډېر ارزښت يې ورنه کړ يوازې دومره يې وويل چې دا ډول خبرې په امريکا کې د انتخاباتو پر مهال کيږي.
د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر بارک اوباما او حامد کرزي اړيکي تر دې کچې راټيټې شوې چې د غبرګولي په ٤مه ماښام ناوخته د يوه ناڅاپه سفر په ترځ کې افغانستان ته راغلى ؤ او د بګرام په هوايي اډې کې يې د دغه هېواد له پوځي ځواکونو سره څو ساعته تېر کړل او پرته له دې چې د ولسمشر حامد کرزي سره وګوري بيرته خپل هيواد ته ستون شو. (پژواک٦غبرګولى٩٣)
د هغه وخت افغان ولسمشر (حامد کرزي) نژدې ملګرى او د کلتور وزير عبدالکريم خرم وايي «اوباما د امريکا تګلاره په افغانستان کې داسې لوبوله چې کابل ته په کې هېڅ ګټه نه وه، ځکه خو د ولسمشر کرزي اړيکې ورسره سمې پاتې نه شوې، اوباما هڅه وکړه يو لړزاند حکومت په افغانستان کې راولي او په ۲۰۰۹ز، کال کې يې ټاکنې جنجالي کړې.» (بي بي سي)
په دويم ځل ولسمشرۍ ټاکنو کې امريکايانو د ولسمشر کرزي پر وړاندې له خپل يو ګوډاګي ډاکټر عبدالله (رنګيلا) څخه ملاتړ وکړ چې د ټاکنو پايلې يې دويم ځل ټاکنو ته ولاړې، امريکايانو غوښتل په افغانستان کې يو بې ځواکه سل په سلو کې تر لاس لاندې حکومت ولري، ښاغلى عبدالکريم خرم د امريکايانو لخوا په افغانستان کې د ضعيفو حکومتونو د جوړولو په تړاؤ وايي چې د امريکا متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير، جان کېري د اوسني [غني او عبدالله] حکومت [د جوړولو] طرحه لا هغه وخت جوړه کړې وه خو کرزي مقاومت وکړ. (بي بي سي)
کله چې امريکايانو ټاکنې دويم  پړاو ته بوتلې نو حامد کرزى پر ټلويزيون باندې په داسې حال کې راښکاره شو چې چپنه يې پر اوږو نه وه ويې ويل: ټاکنو ته چمتو دى او دا به هم په راتلونکي کې مالومه شي چې ټاکنې ولې او چا دويم پړاو ته بوتلې.
حامد کرزى ښه په زړورتيا سره بيا ځلې ټاکنو ته تيار ؤ خو ډاکټر عبدالله چې په خپله راتلونکي ناکامۍ باندې پوه ؤ، له دويم ځل ټاکنو تېر شو او حامد کرزى ولسمشر وټاکل شو.
۱۴۰۰/۱۲/۱۷ل. ل
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ